مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۴۷** (از ۱۸ الی ۲۵ حمل ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط محققین مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ..... ۲

**افغان-ترک ملګرتيا په کوم لور؟**

د کابل-انقرې اړيکو ته کتنه ..... ۴

د ملي يووالي حکومت او ترکيه ..... ۵

اقتصادي او سوداګريزې اړيکې ..... ٦

د افغان – ترک اړيکو راتلونکی ..... ٦

**وضعیت سکتور صحت و دسترسی به خدمات صحی در افغانستان**

خدمات صحی در افغانستان ..... ۹

افزایش واقعات امراض مختلف ..... ۱۰

مشکلات موجود در عرصهٔ سکتور صحی ..... ۱۱

## مقدمه

د ترکيې لومړی وزير تېره اوونۍ د یوه جګپوړي ترکي پلاوي په مشرۍ کابل ته په رسمي یو-ورځني سفر راغی او له افغان چارواکو سره يې په بېلابېلو موضوعاتو خبرې اترې وکړې. نوموړي د افغانستان له اجرائيه رئيس سره په یوه خبري کنفرانس کې د افغان حکومت د سولې له وړانديز څخه د ملاتړ ترڅنګ، له طالبانو وغوښتل چې له رامنځته شوي تاريخي فرصت څخه ګټه واخلي. همدا راز، د ترکيې د لومړي وزير او افغان چارواکو ترمنځ په امنيتي، اقتصادي او نورو برخو کې پر ګډو همکاريو، افغان – ترک ښوونځيو او داسې نورو قضيو بحثونه وشول. دا چې د ترکيې او افغانستان اړيکې په ټوليز ډول په کوم لوري روانې دي، د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل په لومړۍ برخه کې يې په اړه شننه لولئ.

د تحليل په دويمه برخه کې بيا په افغانستان کې د روغتيا سکتور د وضعيت او روغتيايي خدماتو ته د خلکو د لاسرسي په اړه لولئ. تېره اوونۍ په کابل کې د روغتيا نړيواله ورځ ونمانځل شوه او اړوندو افغان چارواکو په دې برخه کې د شته ستونزو او شوو پرمختګونو په تړاو څرګندونې وکړې؛ خو دا چې په افغانستان کې روغتيا سکتور اوسمهال په څه وضعيت کې دی او په دې برخه کې کومې ستونزې شته دي، هغه پوښتنې دي، چې د تحليل په دويمه برخه کې يې د ځوابولو هڅه شوې ده.

# افغان-ترک ملګرتیا په کوم لور؟



**حکمت الله ځلاند** / د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

د ترکيې او افغانستان د اړيکو په اړه همدومره بس ده، چې وتلي ترکي سیاستوال احمد داوود اوغلو دا اړيکې «بېلګه اړيکې» بللې دي او له ګډې پولې پرته «ګاونډې» او يو بل ته نژدې هېوادونه بلل کېږي.

ترکیه او افغانستان د دوه‌اړخيزو اړيکو اوږد تاريخ لري او دا اړيکې د تاريخ په اوږدو کې دوستانه پاتې شوې دي. دا چې ترکيه اوسمهال نه يوازې د اسلامي هېوادونو په منځ کې، بلکې د نړۍ په کچه له ځواکمنو هېوادونو شمېرل کېږي او د افغانستان ترخنګ د سيمې له هېوادونو سره هم ښې اړيکې لري، دغو دوه‌اړخيزو اړيکو ته يې ځانګړې اهميت وربښلی.

د دغو دوه‌اړخيزو اړيکو اهميت په بېلابېلو وختونو کې د دواړو هېوادونو د چارواکو له سفرونو هم جوت دی، چې وروستی هغه يې کابل ته د ترکيې د لومړي وزير بنعلي‌يلدريم سفر و. نوموړي تېره اوونۍ (د اپريل ۸مه ۲۰۱۸) کابل ته د سفر پر مهال له ولسمشر غني، اجرائيه رئيس ډاکتر عبدالله او نورو افغان چارواکو سره وکتل او له اجرائيه رئيس سره يې په يوه ګډ خبري کنفرانس کې هم ګډون وکړ.

د کابل – انقرې د تاریخي اړیکو شالید، په تېره څه باندې یوه‌نیمه لسیزه کې د دواړو هېوادونو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکې او د دغو دوه‌اړخیزو اړیکو راتلونکی، هغه موضوعات دي، چې دلته یې په اړه شننه لولئ.

## د کابل-انقرې اړیکو ته کتنه

د ترکیې او افغانستان ډیپلوماتیکې اړیکې په ۱۹۲۱ کال کې د ترکیې-افغانستان د یووالي تړون له لاسلیک کولو سره پیلېږي؛ خو له تاریخي پلوه، د ترکیې او افغانستان د تړاو په اړه همدا ویل کافي دي، چې د تاریخ په اوږدو کې ځینې ستر شخصیتونه یا له افغانستانه ترکیې ته تللي او یا هم له ترکیې څخه افغانستان ته راغلي، چې یوازې د مولانا جلال الدین بلخي رومي یادونه یې بسنه کوي.

په معاصر تاریخ کې هم، افغانستان له لومړنیو هېوادونو څخه و، چې ترکیه یې په رسمیت وپېژندله او بیا د شاه امان‌الله خان په دوره کې د افغانستان لومړنی سفارت هم په ترکیه کې پرانېستل شو؛ خو په بل اړخ کې ترکان بیا د افغان جهاد پر مهال د افغانانو په څنګ کې ودرېدل او د کورنیو جګړو پر مهال بې‌طرفه پاتې شول.

له ۲۰۰۱ کال وروسته ترکیې د ناټو په چوکاټ کې تقریبا ۴۰۰ پوځیان افغانستان ته راواستول او یوازې د بیارغونې په کارونو او د افغان پوځیانو په روزلو کې یې ونډه واخېسته؛ خو په پوځي عملیاتو کې یې هېڅ ونډه نه ده لرلې او له همدې کبله ترکان په افغان جګړه کې تلفات هم نه لري او افغان طالبان هم د ترکیې په تړاو نرم دریځ او چلند لري.

د حامد کرزي په دوره کې ترکیې د افغانستان او پاکستان د دوه‌اړخیزو اړیکو په رغولو کې رول ولوباوه او له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې یې ۸ درې‌اړخیزې غونډې جوړې کړې. که څه هم عملا د دغې پروسې له کبله په کابل–اسلام‌اباد اړیکو کې شته اوږدمهالې بې‌باوري ختمې نه شوې، خو بیا هم دا پروسه تر یوه بریده ګټوره وه او ترڅنګ یې د افغانستان په لور د ترکیې د زیاتې لېوالتیا او ملګرتیا ښودنه هم کوله.

## د ملي يووالي حکومت او ترکيه

د ملي يووالي حکومت له جوړېدو راوروسته د افغانستان او ترکيې اړيکې يوه نوي پړاو ته داخلې شوې او ترکي ولسمشر رجب طيب اردوغان په خپل تاريخي سفر سره دغه پړاو پرانيست. اردوغان د ملي يووالي حکومت له جوړېدو کابو يوه مياشت وروسته (د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر په ۱۸مه) کابل ته راغی. دا له نژدې پنځو لسيزو وروسته افغانستان ته د يوه ترکي ولسمشر سفر و او له بله پلوه، اردوغان لومړنی بهرني جګپوړی چارواکی هم شو، چې د ملي يووالي حکومت له جوړېدو وروسته يې کابل ته سفر وکړ. په دغه سفر کې د افغانستان او ترکيې ترمنځ د ملګرتيا او همکارۍ ستراتېژيک تړون هم لاسليک شو.

ترکيه هم د افغانستان جيو-پوليټيک موقعيت ته په کتلو سره غواړي په افغانستان کې اوږدمهال حضور ولري او له همدې کبله يې له ۲۰۱۴ کال وروسته هم په افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمېر کم نه کړ او خپله د اردوغان په وينا، ترکيه په هغه هېواد کې چې له چين، ايران، پاکستان او د منځنۍ اسيا له يو شمېر هېوادوونو سره په ګاونډ کې پروت دی، د اوږدمهال حضور په لټه کې ده.

له دې سره سره، له تېر کال راهيسې د دواړو هېوادونو ترمنځ په اړيکو کې د بې‌باوريو زمينې هم رامنځته شوې؛ ځکه له يوې خوا د ولسمشر لومړی مرستيال جنرال دوستم په ترکيه کې په يو ډول د تبعيد ژوند تېروي او له بله پلوه، څو مياشتې وړاندې د دوستم په ګډون له ترکيې څخه د څو تنو افغان سياسيونو له‌خوا د ملي يووالي حکومت پر ضد يو ايتلاف هم اعلان شو.

د ملي يووالي حکومت له جوړېدو وروسته کابل ته د اردوغان د راتګ تر شا د جنرال دوستم د واک ته رسېدو قضيه هم مطرح وه او له همدې کبله له حکومت سره د جنرال دوستم د اړيکو خرابېدو او ترکيې ته تبعيد يې پر دغو دوه‌اړخيزو اړيکو هم خپل اغېز لرلی دی. افغان حکومت د دغې بې‌باورۍ د له منځه وړلو لپاره يو لړ ګامونه هم پورته کړل، چې له دې جملې په فتح الله ګولن پورې د تړليو د افغان – ترک ښوونځو د مديريت قضيه هم د يادولو وړ ده.

ولسمشر اشرف غني هم په تېرو دوو کلونو کې دوه ځله ترکيې ته سفر کړی. لومړی سفر يې د ۲۰۱۵ د ډسمبر مياشت کې و، چې هلته يې د دواړو هېوادونو د سوداګريزې شورا په غونډه کې هم ګډون وکړ او دويم هغه يې د ۲۰۱۷ کال په ډسمبر کې د قدس په اړه د اسلامي هېوادونو د مشرانو په کنفرانس کې ګډون و.

## اقتصادي او سوداګريزې اړيکې

په اقتصادي ډګر کې دواړو هېوادونو يوازې له ۲۰۱۰ کال څخه تر ۲۰۱٦ کال پورې په ټوليز ډول ۱.٦ مېلیارده ډالر دوه‌اړخيز تجارت لرلی، چې ډېره برخه يې له ترکيې څخه وارد شوي توکي دي او کمه برخه يې له افغانستانه ترکيې ته صادر شوي توکي جوړوي. ترکيه د افغان صادراتو د واردوونکو هېوادونو په کتار کې پنځم ځای لري او تر هند، پاکستان، ايران او عراق راوروسته ډېر افغان توکي واردوي.

ترکيې له ۲۰۰۵ کال راهيسې د ريکا (RECCA) يا د افغانستان لپاره د سيمه‌ييزو اقتصادي همکاريو په اوو کنفرانسونو کې فعال حضور لرلی او په وروستي کنفرانس کې، چې د ۲۰۱۷ په نوامبر کې جوړ شو، د ترکيې، ترکمنستان، اذربايجان او ګرجستان ترمنځ د «لاجوردو لارې» هوکړه‌ليک هم لاسليک شو.

له ۲۰۰۳ کال څخه تر ۲۰۱٦ کال پورې ۱۲۷ ترکي کمپنيو په افغانستان کې د ٦ ميلیارده ډالرو په ارزښت ٦۲۷ پروژې پلي کړې دي؛ خو په اقتصادي برخه کې مهم ګام د مالياتو د مخنيوي تړون يا (DTPA) دی، چې د دواړو لورو ترمنځ لاسليک شي او په اړه يې لومړی پړاو خبرې اترې د ۲۰۱٦ کال په جون کې په انقره کې وشوې.

که څه هم د ترکيې او افغانستان په اړيکو کې اقتصادي او تجارتي اړيکې خورا مهمه برخه جوړوي؛ خو له بده مرغه د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ کچه کال په کال په کمېدو ده. په ۲۰۱۰ کال کې ۲٦۵ ميليون ډالره وه؛ خو دا کچه په ۲۰۱٦ کال کې ۱۵۵ مېليون ډالرو ته راکمه شوې ده. له همدې کبله ټاکل شوې د دواړو هېوادونو د ګډ اقتصادي کميسيون (JEC) غونډه راتلونکې مياشت په انقره کې جوړه شي او له افغانستانه به ډاکتر عبدالله پکې ګډون وکړي. د دغه کميسيون لومړۍ غونډه د ۲۰۰۵ کال په اپرېل کې جوړه شوې وه.

## د افغان – ترک اړيکو راتلونکی

ترکيه په اوسني وخت کې د اسلامي نړۍ ځواکمن هېواد دی او له همدې کبله په افغانستان کې هم خپل رول او نفوذ ته ارزښت ورکوي. د دې ترڅنګ په افغانستان کې د ازبکانو او ترکمنانو شتون هم هغه لامل دی، چې د دواړو هېوادونو د اړيکو پر راتلونکي به اغېز ولري. ترکيه دا مهال د افغان حکومت او جنرال دوستم قضيه هم له نژدې څاري او له همدې کبله د ترکيې د لومړي وزير او اجرائيه رئيس ډاکتر عبدالله په ملاقات کې هم دا خبره مطرح شوه او که دا قضيه هواره نه شي، ښايي د ترکيې او افغانستان پر اړيکو هم اغېز ولري.

ترکیه به یو ځل بیا هڅه وکړي، چې د افغانستان او پاکستان د اړیکو په رغولو کې خپل رول ولوبوي. په دې تړاو ټاکل شوې په انقره کې د افغانستان-پاکستان-ترکیې درې‌اړخیزه غونډه جوړه شي. له بله پلوه د طالبانو او افغان حکومت مخامخ خبرو اترو ته د زمینې جوړېدو پر مهال که د طالبانو د قطر دفتر په رسمیت ونه پېژندل شي، د سعودي او نورو هېوادونو په پرتله ترکیه د داسې خبرو اترو لپاره مناسب ځای بلل کېږي؛ ځکه دا هېواد له طالبانو سره نسبي تفاهم لري او له پاکستان سره هم ښې اړیکې لري. له همدې کبله ترکیه د افغانستان د سولې په بهیر کې هم رغند رول لوبولی شي.

د افغانستان او ترکیې د اړیکو راتلونکی د سیاست د ډګر ترڅنګ په کلتوري او اقتصادي ډګرونو هم راڅرخي. دواړو هېوادونو سوداګریزه راکړه‌ورکړه په وروستیو کلونو کې له ځینو ستونزو سره مخ وه؛ خو له وروستیو هلو ځلو څخه داسې ښکاري، چې د دواړو هېوادونو اقتصادي او سوداګریزې اړیکې د پراخېدو او غوړېدو په حال کې دي.

له یوې خوا د ترکیې او سعودي ترمنځ په اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو د مشرۍ په تړاو هم سیالي روانه ده او له بلې خوا افغانستان د ترکیې لپاره خپل ځانګړی ارزښت هم لري. ځکه نو که څه هم په منځنۍ ختیځ کې د ترکیې ښکېلتیا مخ په زیاتېدو ده؛ خو دا چې سعودي عربستان ورو ورو په اسلامي نړۍ کې خپل نرم ځواک بایلي او ترکیه بیا د خپل نرم ځواک د زیاتوالي ترڅنګ د اقتصادي پرمختګ له کبله هم پیاوړې کېږي، له افغانستان سره هم د ترکیې اړیکې په ټولو برخو کې د پیاوړتیا په لور رواني دي.

# وضعیت سکتور صحت و دسترسی به خدمات صحی در افغانستان



**ضیاءالاسلام شیرانی** / مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

پس از تاسیس سازمان جهانی صحت در ٦ اپریل سال ۱۹۴۸م، هفتم اپریل به عنوان روز جهانی صحت در اکثر کشورهای جهان به عنوان فرصتی به منظور جلب توجه جهان به موضوع صحت گرامی‌داشت می‌شود و افغانستان نیز از سال‌ها به این‌سو این روز را تجلیل می‌کند.

روز جهانی صحت امسال در افغانستان تحت شعار «پوشش صحی همگانی: همه کس در همه جا» در حالی تجلیل گردید که بربنیاد آمار سازمان جهانی صحت (WHO) حدود ۴۰ درصد افغان‌ها بدیل مشکلات گوناگون از دسترسی به خدمات صحی محروم اند.

در حالیکه پس از سال ۲۰۰۱م میلیاردها دالر از کمک‌های جهانی به افغانستان سرازیر شد، شفاخانه‌ها و مراکز صحی دولتی و خصوصی در مرکز و ولایات کشور ایجاد گردید؛ اما هنوز هم مردم افغانستان با چالش‌های جدی در عرصۀ خدمات صحی روبرو اند و بیشتر شان ناگزیر برای تداوی امراض شان به کشورهای دیگر، بخصوص پاکستان و هند سفر می‌کنند.

وضعیت سکتور صحی در افغانستان، واقعات روبه افزایش بیماری‌های مختلف و مشکلات و چالش‌های موجود در عرصۀ سکتور صحی در افغانستان، موضوعاتی اند که در این تحلیل روی آن بحث صورت گرفته است.

## خدمات صحی در افغانستان

از تأسیس نخستین مرکز[1] در عرصهٔ سکتور صحی در افغانستان حدود ۹۵ سال می‌گذرد؛ اما با گذشت نزدیک به یک قرن هنوز هم افغانستان در ردیف کشورهای قرار دارد که در آن از هر ۱۰۰۰ کودک نوزاد ۹۱ تن آن‌ها جان‌های شان را از دست می‌دهند. مهم‌ترین دلیل این عقب‌مانده‌گی تجاوز های خارجی‌ها برخاک افغانستان و تداوم جنگ در کشور می‌باشد.

پس از سقوط رژیم طالبان دولت افغانستان میلیاردها دالر کمک‌های جهانی را به دست آورد و در کنار سایر عرصه‌ها، بخش سکتور صحی نیز مورد توجه قرار گرفت. چنانچه در سال ۱۳۶۹ هـش در سرتاسر افغانستان ۱۴۳ مرکز اساسی صحی، ۲۵۰۴ داکتر و ۵۵۷ فارمسست وجود داشت؛ ولی این رقم پس از سال ۱۳۸۱ هـش در طول یک‌ونیم دهۀ گذشته چند برابر افزایش یافته است.

نظر به آمار ادارۀ احصائیۀ مرکزي در سال ۱۳۹۵هـ ش در سرتاسر افغانستان به تعداد ۱۷۰ باب شفاخانۀ دولتی و ۳۸۸ باب شفاخانۀ خصوصی وجود داشت. همچنان در این سال حدود ۴۱۷ مرکز صحی جامع، ۹۲۳ مرکز صحی اساسی و ۸۳۳ مرکز صحی فرعی فعال بود.[2]

براساس اظهارات دکتور فیروزالدین فیروز در مراسم تجلیل از روز جهانی صحت (۱۸ حمل ۱۳۹۷هـ ش)، با وجود مشکلات مختلف، پیشرفت‌های قابل ملاحظه‌ی در راستای بهبود عرضۀ خدمات صحی صورت گرفته است. وی گفت که نظر به آمار وزارت صحت عامه در سال ۲۰۱۵م با پیمودن فاصلۀ یک ساعت پیاده‌روی ٦٠ درصد و با فاصلۀ دو ساعت پیاده‌روی ۹۰ درصد مردم افغانستان به خدمات صحی دسترسی پیدا کرده‌اند، در حالیکه این رقم درسال ۲۰۰۲م تنها ۹ درصد بود. آقای فیروز همچنان افزود که در سال ۲۰۰۲م از هر ۱۰۰ هزار مادر ۱٦۰۰ تن آنها جان‌های شان را از دست می‌دادند، اما در سال ۲۰۱۵ این رقم به ۳۹٦ تن کاهش یافت و مرگ‌ومیر اطفال زیر سن پنج سال نیز از ۲۵۷ به ۵۵ تن در هر ۱۰۰۰ تولد زنده کاهش یافته است.

[1] "مدیریت مستقل طبیه" نخستین مرکز عصری بود که در زمان سلطنت شاه امان الله خان در سال ۱۳۰۲ هـ ش در افغانستان تأسیس گردید. این مرکز در سال ۱۳۱۳هـ ش به "ریاست مستقل صحیه" و در سال ۱۳۲۴هـ ش به "وزارت صحیه" تبدیل شد.

[2] سالنامۀ احصائیوی ۱۳۹۵ هـ ش، نشر شده توسط ادارۀ مرکزی احصائیه.

با در نظرداشت این ارقام، پس از سال ۲۰۰۱م در کل وضعیت سکتور صحی افغانستان از یک وضعیت غیرقابل قبول به حالت بهتر شدن در حرکت بوده است، اما با گذشت یک‌ونیم دهه هنوز هم در یک مقایسه بین‌المللی در سطح پایین قرار دارد، هنوز هم شفاخانه‌ها و لابراتوارهای طبی افغانستان برای ضرورت‌های مردم جوابگو نیستند و به همین دلیل سالانه ده‌ها هزار تن به هدف تداوی امراض‌شان راهی کشورهای دیگر می‌شوند.

## افزایش واقعات امراض مختلف

افغان‌ها در حال حاضر از یک‌سو با بیماری‌هایی روبرو اند که در سایر کشورها به آسانی قابل تداوی می‌باشد، اما برای مردم افغانستان به بیماری‌های مرگباری تبدیل شده است و از سوی دیگر واقعات امراض خطرناک و کشنده مانند ایدز و سرطان نیز روبه افزایش است. هزاران تن از این بیماران به دلیل عدم توانایی رفتن به خارج از کشور برای تداوی امراض شان، زنده‌گی شان را از دست می‌دهند.

**توبرکلوز:** توبرکلوز از جمله امراض ساری قابل تداوی است که نظر به آمار وزارت صحت عامۀ افغانستان در ۳۴ ولایت کشور حدود ۲۳۵۵ مرکز صحی خدمات تداوی توبرکلوز را نیز عرضه می‌کند؛ اما با این حال همه‌ساله هزاران تن به اثر بیماری توبرکلوز جان‌های شان را از دست می‌دهند.

نظر به آمار سازمان جهانی صحت، سالانه ٦١ هزار تن در افغانستان به این بیماری قابل تداوی، مبتلا می‌شوند که به علت نبود خدمات صحی معیاری ۱۲ هزار تن آنان جان‌های شان را از دست می‌دهند.

**ایدز (HIV):** ایدز یا ویروس (HIV) نیز از جمله بیماری‌های خطرناکی می‌باشد که آمار افراد مبتلا بر آن در افغانستان رو به افزایش است. بر اساس معلومات وزارت صحت عامۀ افغانستان در حال حاضر به صورت تخمینی حدود ۷۵۰۰ نفر مبتلا به این ویروس در افغانستان ثبت گردیده‌اند که به علت کمبود خدمات صحی به تداوی همه این‌ها رسیده‌گی کرده نمی‌تواند و به همین دلیل این رقم سال به سال رو به افزایش است.

**سرطان**: سرطان که از جمله امراض غیرساری می‌باشد نیز از جمله بیماری‌های است که واقعات آن به گفتۀ وزارت صحت عامه افغانستان، رو به افزایش است. فیروزالدین فیروز، وزیر صحت عامۀ افغانستان در دومین مجمع عمومی بنیاد مجادله علیه سرطان (۱۲ حمل ۱۳۹۷هـ ش) اظهار داشت که روزانه ٦۰ مریض در مرکز کنترول سرطان تداوی می‌شود و در یک سال گذشته تنها ۱۳۰۰ مریض مبتلا به سرطان تداوی شده‌اند.

این در حالی است که نظر به آمار سازمان جهانی صحت سالانه نزدیک به ۲۰ هزار واقعهٔ سرطان در افغانستان تشخیص می‌شود که از این میان ۱۵ هزار تن آن‌ها به علت نبود امکانات و خدمات صحی، جان‌هایشان را از دست می‌دهند. با آنکه مقام‌های وزارت صحت عامهٔ افغانستان از آمار دقیق افراد مبتلا به مرض سرطان چیزی نمی‌گویند؛ اما تاکید می‌کنند که نظر به پیشبینی‌ها رقم افراد مبتلا به مرض سرطان تا ۱۰ سال دیگر ۵۰ درصد افزایش خواهد یافت.

## مشکلات موجود در عرصهٔ سکتور صحی

- **کمبود بودجه**: نبود بودجهٔ کافی، یکی از چالش‌های عمدهٔ سکتور صحی در افغانستان می‌باشد. چنانچه هفتهٔ گذشته (۱۸ حمل ۱۳۹۷هـ ش) فیروزالدین فیروز وزیر صحت عامهٔ افغانستان نیز در نشست گرامی‌داشت از روز جهانی صحت، کمبود بودجه را یکی از چالش‌های مهم سکتور صحی افغانستان عنوان نمود و گفت که در حال حاضر در افغانستان سالانه مبلغ پنج دالر برای هر فرد جهت دریافت خدمات صحی اختصاص داده شده است. مبلغ مذکور نسبت به دیگر کشورهای جهان مبلغ اندکی بوده و برای اینکه مشکلات موجود در سکتور صحت افغانستان حل گردد، نیاز به بودجهٔ بیشتر است.
- **کیفیت پائین خدمات صحی:** در حالی‌که پس از سال ۲۰۰۱م در افغانستان عرصهٔ خدمات صحی از نظر کمیت نسبت به سال‌های قبل، بگونهٔ قابل ملاحظه پیشرفت کرده است، ولی برعکس کیفیت پائین در این عرصه چالشی برزگی به مردم افغانستان بوده است. کمبود داکتران مسلکی، نبود تجهیزات طبی و کارگیری از دواهای بی‌کیفیت از جمله مشکلات اصلی مراکز صحی در افغانستان به شمار می‌رود.
- **فساد اداری:** موجودیت فساد اداری، مانند دیگر بخش‌ها سکتور صحی افغانستان را نیز زیر سایهٔ خود درآورده است. به دلیل موجودیت فساد از یک‌سو دواهای بی‌کیفیت وارد کشور می‌شود و از سوی دیگر همین دواها توسط اشخاص غیرمسلکی به دسترس مردم قرار می‌گیرد که بیشتر شان حتی مجوز قانونی هم ندارند و یا هم از مجوزهای جعلی استفاده می‌کنند. این وضعیت بیشتر در قریه‌ها و مناطق دوردست در جریان است. در کل، فساد اداری بر فعالیت‌های دواخانه‌ها و شفاخانه‌های خصوصی و نیز در این بخش بر پروسهٔ نظارت به‌گونه مستقیم تاثیر منفی کرده است.

- **کمبود داکتران زن:** موضوع داکتران زن یکی دیگر از مشکلات جدی در عرصهٔ سکتور صحی در افغانستان می‌باشد. در حال حاضر در ۳۴ ولایت افغانستان، ولایاتی نیز وجود دارد که در آن هیچ داکتر زن وجود ندارد. فیروزالدین فیروز، وزیر صحت عامهٔ افغانستان در کنفراس شورای صحی اظهار داشت که در حال حاضر در ولایت‌های نورستان، پکتیکا، زابل و ارزگان هیچ داکتر زن وجود ندارد. به همین دلیل این وضعیت در مناطق دور دست کشور اکثرا به جان باختن مادر و یا هم نوزاد می‌انجامد.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق ارشد:** حکمت الله ځلاند (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com